مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
دوشنبه د ۱۳۹۸ د غويي دويمه | د ۲۰۱۹ د اپريل ۲۲مه | دويم کال| ۳۶۷مه گڼه

هېواد
۴ مخ

## وانواتو

د دغه هېواد ۷۰ سلنه خلک د کرنې په سکټور کې پر کار بوخت دي او د هېواد ۲۵ سلنه ناخالص کورني توليدات هم له همدغه سکټور څخه لاس ته راځي.



## د نغلو برېښنا بند د توليد ظرفيت ۵۰ ميگاواټه زيات شوی دی



برېښنا رياست ويلي، د توربينونو له ترميم څخه وروسته، د نغلو بند د برېښنا توليد له ۵۰ ميگاواټو څخه ۱۰۰ ميگاواټو ته لوړ شوی دی.
د دغه رياست د چارواکو په خبره، دمگړۍ د برېښنا په ياد بند کې څلور توربينونه فعال دي، چې څلور واړه په يو ساعت کې ۱۰۰ ميگاواټه او په ۲۴ ساعتونو کې ۲۴۰۰ ميگاواټه برېښنا توليدوي.
د برېښنا ياد بند څلور توربينونه لري، چې يو توربين يې اته کاله وړاندې او بل يې دوه نيم کاله وړاندې د تخنيکي عوارضو له امله غيرفعال شوي وو، چې په دې وروستيو کې بېرته ترميم شوي دي.
د ياد رياست د مسوولينو په خبره، له شمال څخه د ۵۰۰ کيلوولټو مزي غځېدو کار په بشپړېدو او له ترکمنستان او ازبکستان څخه د زرو ميگاواټو برېښنا په لېږد سره به د کابل برېښنا کمښت ستونزه حل شي.

# د ستري محکمې پر پرېکړې غبرگونونه؛

## د ولسمشر د کار دوام د غبرگولي تر لومړۍ نېټې ورهاخوا قانوني مشروعيت نه لري


۳

د اساسي قانون، فقهې، سولې او افغاني گټو ضد پرېکړه
۲ مخ

نالوستي ليکونه
۲ مخ

«يو کمربند - يوه لار» به افغانستان د رنې ملغرې په څېر بيا وځلوي
۳ مخ

## داوودزی: تر لويې مشورتي جرگې وروسته به د مصالحې شورا پر ترکيب کار کېږي

د قطر ناستې تر لغوه کېدو وروسته، د سولې عالي شورا د دارالانشا رييس چې د لويې جرگې د تدوير کمېسيون چارې هم پر غاړه لري، ويلي چې د مصالحې رهبرۍ شورا ترکيب لا نه دی تکميل شوی او اوس دوی لومړيتوب مشورتي لويې جرگې ته ورکوي. داوودزي چې د لويې جرگې په تړاو له ديني عالمانو سره يوې مشورتي ناستې ته وينا کوله، ويلي چې تر مشورتي لويې جرگې وروسته به د مصالحې رهبرۍ شورا پر ترکيب کار وکړي.
داوودزي زياته کړې چې ټل پاتې سولې ته د رسېدو لپاره قربانۍ ته ضرورت دی او بايد د جنگ ښکېل لوري د سولې لپاره په خپلو ليکو کې نرمښت رامنځته کړي. نوموړي پر حکومت او طالبانو غږ کړی، چې په خپلو موقفونو کې نرمښت راولي.
په ورته وخت کې ځينو ديني عالمانو هم ويلي، تر هر څه وړاندې ملت سولې ته ضرورت لري او د جنگ پر ښکېلو لورو يې غږ کړی، چې د سولې تر خبرو مخکې دې اوربند وکړي. دوی ويلي، د حکومت له خوا د خالد او طالبانو له خوا د الفتح په نوم عمليات د سولې پروسې د سبوتاژ په معنی دي او ژر تر ژره يې د دغو عملياتو د بندېدو غوښتنه کړې ده. د سولې مشورتي لويې جرگې د تدوير کمېسيون داسې مهال د مصالحې رهبرۍ شورا ترکيب تر نهايي کېدو مخکې د جرگې پر دايرولو ټينگار کوي، چې د حکومت د اجرايه رييس په گډون، ډېرو سياسي جريانونو او ولسمشريزو ټاکنو ته نوماندانو له مشورتي لويې جرگې سره پرېکون اعلان کړی او ويلي يې دي چې په دې جرگه کې برخه نه اخلي.

## د ملي شورا ۱۷مه دوره به تر راتلونکي پنجشنبې پرانيستل شي




۳ مخ

## مکاتب افغان- ترک در هرات به وزارت معارف واگذار شد



در پی جنجال ها برسر مديريت مکاتب افغان – ترک، سر انجام ديروز طی مراسمی مديريت مکاتب افغان-ترک در هرات، رسماً از سوی معين وزارت معارف ترکيه، به وزارت معارف افغانستان واگذار شد.
رها دنه مچ معين وزارت معارف جمهوری ترکيه، ديروز حين انتقال مديريت مکاتب افغان-ترک به دولت افغانستان گفت که انتقال مکاتب افغان- ترک، روابط ميان ترکيه و افغانستان را مستحکم تر می کند.
وی افزوده است که در تمام مکاتب افغان-ترک، بازسازی و نوسازی صورت خواهد گرفت و بهترين استادای کار کشتۀ ترکی، در اين مکاتب به آموزش و پرورش کودکان افغان خواهند پرداخت.
معين وزارت معارف ترکيه گفته است که درحال حاضر ۳هزار شاگردان افغان، در مکاتب افغان – ترک در افغانستان شامل اند و آنان تلاش می کنند که تا چند سال آينده، شمار شاگردان مکاتب افغان ترک در افغانستان را به ۱۸ هزار تن برسانند. ميرويس بلخی سرپرست وزارت معارف کشور که در اين مراسم حضور داشت، گفته است که بر اساس تفاهمنامه ميان وزارت های معارف افغانستان و ترکيه، قرار است تمام مکاتب افغان-ترک، مجهز با تمام امکانات باشد و ۲۰ درصد شاگردان نيز رايگان تدريس خواهند شد.
وی افزوده است که بر اساس اين تفاهم، قرار است تا چند سال آينده، شمار مکاتب افغان-ترک در افغانستان، از ۱۲ مکتب در حال حاضر به ۲۸ مکتب در سراسر کشور افزايش يابد.

د کتاب نړيواله ورځ
د کتاب مينوال کولای شي له اکسوس څخه د کتاب نړيوالې ورځې په وياړ يو مهم او تر ټولو زيات پلورل شوی کتاب «ته گټونکی يې» وړيا ترلاسه کړي.



Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
Aksos Book Store
په ځانگړي تخفيف سره زيات کتابونه وپېرئ
سه شنبه د اپريل 23مه 2019

## دریځ

# د اساسي قانون، فقهې، سولې او افغاني گټو ضد پرېکړه

ستره محکمه وایي چې ولسمشر تر هغو خپل کار ته دوام ورکولی شي، څو چې نوی ولسمشر کار پیلوي. په همدې تړاو د سترې محکمې په پرېکړه کې راغلي دي، چې د قانون له روحیې سره په موافقت او همدارنگه د هېواد وضعیت ته په کتو او د فقهي قاعدو پر بنسټ، د ولسمشر او د هغه د مرستیالانو د کار دوام د ولسمشریزو ټاکنو تر کېدو پورې تاییدېږي.

د سترې محکمې دغه کار څومره قانوني دی او څه پایلې به ولري؟

لومړی بحث دا دی چې ستره محکه د اساسي قانون د تفسیر مرجع نه ده. د اساسي قانون ۱۲۱ ماده وایي: " له اساسي قانون سره د قوانینو، تقنیني فرمانونو، بین‌الدوله معاهدو او بین‌المللي میثاقونو د مطابقت څېړل، د حکومت یا محاکمو په غوښتنه او د هغو تفسیر د قانون له حکمونو سره سم، د سترې محکمې صلاحیت دی". په دغه ماده کې د سترې محکمې صلاحیتونه واضح شوي او نه دي ویل شوي چې د اساسي قانون د تفسیر مرجع ده. نو پر دې اساس د سترې محکمې پرېکړه له سره ناقانونه ده. له بله اړخه د اساسي قانون ۶۱مه ماده وایي، چې د ولسمشر دنده د پنځم کال د جوزا په لومړۍ نېټه، له ولسمشریزو ټاکنو وروسته ختمېږي. په اساسي قانون کې واضح ویل شوي چې ولسمشریزې ټاکنې باید د جوزا له لومړۍ نېټې ۳۰ یا ۶۰ ورځې وړاندې وشي. اوس چې قانون واضح نېټه ټاکلې او حکومت پر همدغه ټاکلي وخت ټاکنې نه کوي، نو نه یوازې واک یې باید ونه غځول شي، بلکې په دې تړاو باید ځواب ووایي او خبره باید آن تر عدلي او قضایي تعقیب پورې ولاړه شي. د افغانستان ټاکنې د کومې داسې ستونزې پر اساس نه دي ځنډول شوې، چې توجیه شي؛ بلکې د حکومت د غفلت، فساد، بې کفایتۍ او سیاسي معاملو پر اساس ځنډول شوې دي، چې له همدې امله د ولسمشر د واک غځېدل نه توجیه کېږي.

له بله اړخه د سترې محکمې په پرېکړه کې ویل شوي، چې دغه کار د فقهي د قاعدو پر اساس شوی دی. خلکو ولسمشر د یوه ټاکلي وخت لپاره ټاکلی دی. یعنې دا د وکیل او موکل ترمنځ قرارداد دی. کله چې د قراداد وخت پوره شي، د محکمې په شمول هېڅوک نه شي کولی د موکل په استازیتوب له وکیل سره قرارداد وغځوي. په دې اړه اسلامي فقهه او د افغانستان وضعي قوانین روښانه دي. د سترې محکمې دا پرېکړه په واضح ډول د فقهې او فقهي اصولو خلاف هم ده.

د سترې محکمې په پرېکړه کې ویل شوي چې " د هېواد وضعیت ته په کتو" دا پرېکړه شوې ده. له بده مرغه د سترې محکمې غړي د هېواد وضعیت هم نه درک کوي. روښانه ده چې څو میاشتې وروسته هم ټاکنې نه کېږي، نو بیا به هم د ولسمشر کاري دوره غځېږي!؟ له بله اړخه د سولې خبرې رواني دي او ولسمشر واضح د سولې خلاف دریځ نیولی دی. اړتیا ده چې یو بدلون راشي، څو له سولې سره مرسته وکړي. پر دې اساس د سترې محکمې پرېکړه " د هېواد وضعیت ته په کتو" نه ده شوې؛ بلکې په دې پرېکړه کې د هېواد وضعیت، اړتیا او سترې گټې هېرې شوې دي.

د پورته دلایلو پر اساس، د سترې محکمې پرېکړه ناقانونه، د سولې او د افغانستان د راتلونکې پر ضد ده، چې د جگړې له دوام او سیاسي بې ثباتۍ سره به مرسته وکړي.

# نالوستي لیکونه



لیکنه: عبدالباري جهاني - څلورمه برخه:

د امیر حبیب الله خان او نصرالله خان اړیکې:

کابل په هغو کلونو کې یو عجیب رنگ درلود. سړی چې هغه حالات لولي، نو فکر کوي چې امیر به د خپل قدرت د ساتلو او د دښمنانو له وهلو پرته بل هېڅ کار نه درلود. هغه په خپل کور کې له خپل مقتدر ورور، چې د هېواد په مذهبي عناصرو کې یې ډېر زیات محبوبیت ترلاسه کړی و، په جنجال اخته و. په بهر کې د حضرتانو او مُلایانو چې پرته له غزا یې د بل هېڅ شي غم نه کاوه، له ستونزې سره لاس او گرېوان و. له بلې خوا کابل د قبایلو له ستونزې سره مخ و او امیر حیران و چې کومې ستونزې ته لومړی توجه وکړي. د انگرېزانو استازی د همدغه کال د سپټمبر د نهمې په رپوټ کې لیکي: «کابل نن سبا د بېلابېلو قبایلو له خلکو ډک دی. له هرې خوا څخه خلک ورته را روان دي. په سرایونو کې د هغوی د اوسېدو او شپې تېرولو لپاره ځای نشته. مهمند، افریدي، سلیمانخېل، کاکاخېل، تیراهي، شینواري، کټوازیان، وزیر، لالپوریان، یوسفزي او نور قومونه راغلي دي. دوی د خپلو سیاسي او شخصي کارونو ترڅنگ د وسلو له قاچاقبرانو څخه د وسلو پر رانیولو لگیا دي. یوسفزي د ټوپکو پر ځای زیاتره د توفنگچو رانیولو ته توجه کوي. موزر توفنگچې، هر یوه پر پنځه سوه کابلۍ پیسو یا ۲۸۶ پاکستانۍ کلدارو پلورل کېږي.

سردار نصرالله خان د غزا په برخه کې د امیر د اوامرو او هدایتونو په خلاف له مجاهدینو سره مرستو ته دوام ورکړ. په همدې اړه د انگرېزانو استازی د ډسمبر دې ۳۰مې په رپوټ کې وایي، چې د اخوندزاده سیداکبر په نوم یوه سړي ته یې وویل چې په کابل کې پاتې شي او تر علاج وروسته به د غزا لپاره حرکت وکړي. هغه ورته وویل چې د دوا او پیسو پر ځای ماته کارتوس راکړه؛ دا زما لپاره هر څه دي. نصرالله خان هغه ته پنځه سوه روپۍ او درې زره کارتوس ورکړل. داسې ښکاري چې له انگرېزانو سره د غزا او جهاد په دغو گرمو او احساساتي حالاتو کې روحاني مشر میرصاحب جان چې په کابل کې په پاچاصاحب مشهور و او له انگرېزانو سره د غزا تر ټولو مهم او زورور طرفدار و، تر ډېرو نورو پیرانو او مذهبي مشرانو د زیات نفوذ خاوند و. سره له هغې چې امیر ټول هغه کسان په بندیخانو کې واچول چې د غزا تبلیغ یې کاوه، خو د میرصاحب جان چې د سردار نصرالله ډېر نږدې ملگری و، ځواب یې نه درلود او لا یې تحفې هم ورکولې.»

د انگرېزانو استازی د اگسټ د ۱۵مې په رپوټ کې لیکي: «میرصاحب جان اوس هم په کابل کې دی. هغه تېره اونۍ میرزا محمدحسین مستوفي مېلمه کړ او یو ټوپک، یو څه مرمۍ، یو آس او زین، څلور سوه روپۍ نغدې او څلوېښت جریبه ځمکه او یوه کلا یې په تحفه کې ورکړل. په ورپسې ورځ سردار نصرالله خان مېلمه کړ، یو ټوپک او څه مهمات، یو آس او زر روپۍ یې ورکړې. په بله ورځ سردار عنایت الله خان مېلمه کړ او ځینې شیان یې ورکړل چې تفصیل یې لا تر اوسه راته معلوم نه دی. اعلیحضرت یوازې یو ځل حضور ته منلی دی. دغه ملاقات ډېر لنډ و او امیر ټول هغه درناوی چې له یوه روحاني مشر سره ښایي، ورته وښود. په ډېرې مهربانۍ یې خبرې ورسره وکړې او چې ولاړ، نو زر روپۍ یې ور ولېږلې او ورته ویې ویل چې دا د مهمانۍ په توگه ومنه او د روانېدلو په وخت کې به تحفه ورکړي».

د انگرېز استازی لیکي چې هم واکمنه کورنۍ او هم حکومتي مامورین د میرصاحب جان ډېر درناوی کوي. دی لیکي چې د اگسټ په اتمه د هغه کور ته غل ور ولوېد او د نوموړي یو ساتونکی یې وویشت او مړ یې کړ، خو میرصاحب جان روغ رمټ خلاص شو او قاتل نه دی نیول شوی. نوموړی وایي، په ښار کې داسې اوازه ده چې دغه قاتل امیر په خپله ورلېږلی و، ځکه چې امیر د میرصاحب جان له نفوذ او قدرت او له سردار نصرالله خان سره د هغه له نږدې دوستۍ وېرېده.

استازی د اگسټ د ۲۹مې په رپوټ کې لیکي چې میرصاحب جان د دې میاشتې په ۲۴مه پلچرخي ته ولاړ او هلته یې د حبیب الله خان محمدزي، چې د اعتمادالدوله له خپلوانو څخه دی، لور خپل زوی ته واده کوله. د بوتخاک حضرت صاحب یې هم واده ته ورغلی و او د واده ټول لگښت یې محمدحسین خان مستوفي په غاړه اخیستی و. استازی لیکي چې محمدحسین خان دوه خرواره وریجې، اوزگړي، پسونه او غوړي هم ورکړل. سردار نصرالله خان جواهرات او نغدې پیسې ورکړې.

له انگرېزانو سره د جهاد په مسئله کې د امیر او سردار نصرالله خان اختلافات ورځ تر بلې زیاتېدل. نه سردار د غزا د پیلولو په برخه کې له خپلو پېشنهادونو څخه تېرېدو او نه امیر د هغه پېشنهادونه منل. د انگرېزانو استازی د ۱۹۰۸ ز کال د سپټمبر ۲۳مې په رپوټ کې لیکي: «تقریباً یوه میاشت مخکې په حرم کې دننه د سردار او امیر غږونه پورته شول. سردار د غزا خبره را پورته کړه او په ډېر جرئت یې خپل دلایل وړاندې کړل. امیر ډېر په غوسه شو او ویې ویل چې که زه د عبدالرحمان زوی وم، زه به د غزا د پیلولو په برخه کې یوه دقیقه هم ضایع نه کړم. زه به پخپله د جنگ جبهې ته ولاړ شم. همدغه شېبه زما د خېمې مخ د پېښور خواته واړوی. خو ماته یې لیکلې موافقتنامه او اطمینان راکړ، چې ما ته به د غزا په وخت کې په لکونو سرې او حیوانان رالېږي او که ته ناکام شوې، نو بیا زه بله لاره نه لرم. اول به تا ولم او بیا به خان وژنم او نور به نو مسلمانان پرېږدو چې څه کوي هغه دې وکړي. امیر خپل لاس پر توفنگچه باندې کېښود؛ د حرم مېرمنو مداخله وکړه او سردار نصرالله خان په ارامه له خونې څخه ووت. مخکې له هغه چې سردار له خونې څخه ووځي، امیر ورپسې غږ کړ چې ته د مسلمانانو رېښتې کاږې. دا څو ورځې کېږي چې سردار نصرالله خان په اداري چارو کې چندانې برخه نه اخلي. اعلیحضرت، سردار عنایت الله خان ته امر کړی دی چې د هېواد ملکي چارې هم پرمخ بوځي. په سردارانو کې داسې اوازه ده چې سردار نصرالله خان اوس په عامه د امیر نافرماني کوي».

د انگرېزانو د استازي د سپټمبر د ۱۶مې له رپوټ څخه ښکاري چې سردار نصرالله نه یوازې د امیر له څرگندو اوامرو څخه سرغړونه کوي، بلکې د روحانیونو او مذهبي مشرانو په هغه غونډه کې چې ده او اعتمادالدوله عبدالقدوس خان را بللې وه، د امیر پر ضد د مقاومت او له زوره اخیستلو خبرې یې وکړې. استازی لیکي: «سردار نصرالله خان وویل چې پاچا د محمدي شریعت پر اساس دا حق نه لري چې د خپلو شخصي عقایدو په منظور له خلکو څخه د هغوی حقونه غصب کړي او له غزا څخه یې منعه کړي او که دغه کار وکړي، نو د ده رعیت حق لري چې له قوې څخه کار واخلي».

د دوی دواړو تر منځ د اختلاف د حلولو او پخلاینې لپاره یې بالاخره مور مداخله وکړه او د انگرېزانو استازی د ډسمبر د ۲۳مې په رپوت کې لیکي: «په تېره اونۍ کې یو ماښام د امیر مور وغوښتل چې امیر په حرم کې دننه ووینې. سردار نصرالله خان هم حاضر و او ډېر زیات احتمال لري چې مور به یې مخکې ورته ویلي وو چې له امیر سره په خونه کې و اوسي. د امیر مور قرآن شریف ورسره اخیستی و او د هغه په روی یې له امیر حبیب الله څخه وغوښتل چې له خپل ورور سردار نصرالله خان سره وفادار او ملگری اوسي. دغه راز یې د همدغه قرآن شریف په روی له نصرالله خان څخه وغوښتل چې د خپل مشر ورور امر ته غاړه کېږدي او هغه ته وفادار واوسي. دوی ډېرې اوږدې خبرې سره وکړې، خو داسې ښکاري چې نصرالله خان د مجلس له نتیجې څخه چندانې راضي نه و».

سردار نصرالله خان د امیر له پالیسیو سره د مخالفت او په روحانیونو او مذهبي عناصرو کې د نفوذ ترلاسه کولو لپاره یې د برېټانیې پر ضد داسې عملیاتو ته لاس واچاوه چې د افغانستان په څېر یوه کمزوري هېواد لپاره یې عملي کول او دوام ناممکن و. د انگرېزانو استازی د ۱۹۰۸ ز کال د نومبر په ۱۱مه په خپل رپوټ کې لیکي: «په کابل کې د هودخېلو یوه نهه کسیزه ډله ده. دوی اوړی په کابل کې تېروي او په ژمي کې د لغمان د چارباغ علاقې ته ځي. دوی د نومبر په اتمه ماښام سردار نصرالله خان ته عرض بېگي ملا محمدخان ور معرفي کړل. سردار هغوی هر یوه ته یې ۶۰ روپۍ ورکړې او دغه راز یې ۲ سوه روپۍ پېشکي ورکړې، چې له سفر څخه تر راستنېدو وروسته به یې په حساب کې معامله شي. سردار هغوی ته له خپلې سلیقې سره سم هدایتونه ورکړل. د نوموړي د هدایتونو مهم ټکي دا وو چې پرته له فرنگیانو به له هېچا سره غرض نه کوي. هغه سامانونه او مواد چې دوی یې ورسره اخلي، باید چې د نوره کې سړیو ته یې چې باید مخکې له مخکې یې د کتلو ترتیب ورسره نیولی وي، ورتسلیم کړي. دوی باید کوښښ وکړي چې خپل هویتونه او وسلې پټې وساتي. دوی باید د اسلام دښمنانو ته په تاوان رسولو کې خپل ټول وس تمام کړي. دوی باید دلته یو څه سامانونه واخلي او هند ته یې د خرڅلاو لپاره یوسي. په دې توگه به دوی وکړای شي چې د محترمو او معززو کسانو په څېر له سرحد څخه تېر شي. دوی په پای کې سردار ته وویل چې په پنځو یا شپږو ورځو کې به هند ته حرکت وکړي.

په دغو کسانو کې یو محراب الدین نومېږي. جگ ځوان سړی دی. مخ یې یو څه چیچکی دی. ږیره کموي. بل یې عزیز خان نومېږي. جگ سړی دی، توره او سپینه لنډۍ ږیره لري. هغه بل یې شېرخان نومېږي. گردی غنم رنگه سړی دی. وړې سترگې یې دي او پر باړخو باندې ټپ لري. یو بل تن یې ملاشیرین نومېږي. جگ غټ سړی دی او توره ږیره لري. د پنځم نوم مې نه دی زده. خو گردی چاغ سړی دی. پر تندي باندې ټپ لري، چې ښایي د تورې یا ډبرې له امله وي».

کله چې د ورانکارې ډلې د غړو نومونه او قیافې د انگرېزانو استازي ته معلومې وي او د هغوی له حرکت څخه مخکې یې خپل حکومت ته رپوټ ورکړی وي، نو د دغو ورانکارو له عملیاتو څخه به پرته له رسوایۍ بل څه جوړ شوي وي؟

د انگرېز استازي د اکټوبر د څوارلسمې په رپوټ کې راغلي دي، چې سردار نصرالله خان تر دې دمخه، د میر احمدشاه په نوم یو سړي چې پر اغو مشهور دی، هند ته لېږلی او هغه ته یې وظیفه ورکړې وه، چې د برېټانیې د حکومت په باب اطلاعات ورته راغونډ کړي. میر احمدشاه په ظاهره د دارو درملو سوداگر و، مگر اصلي وظیفه یې جاسوسي وه. میر احمدشاه یا اغو د امیر عبدالرحمن خان په زمانه کې هم هند ته د جاسوسۍ لپاره لېږل شوی و او هلته په کلکته کې د کاکا غلام محی الدین په نوم یوه سړي پر ځای باندې اوسېد. **دوام لري...**

## چاړواکي: طالبانو په تخار کې د ای خانم‌بندر او کمیساري کلابند کړي دي

د تخار په دشت کلا ولسوالۍ کې ای خانم‌بندر او د پوله ساتو ځواکونو کمیساري له څو ورځو راپدېخوا د طالبانو له لوري کلابند دي. د دغه ولایت سیمه ییزو چاړواکو ویلي، مرستندوی ځواکونه سیمې ته رسېدلي، خو د سیمې اوسېدونکو ویلي چې د مرستندویو ځواکونو هڅې تر اوسه بې پایلې دي.

د یادو چاړواکو په خبره، پر ای خانم‌بندر سربېره، طالبانو د دشت کلا ولسوالۍ ډېره برخه تر خپلې ولکې لاندې راوستلې ده.

د دشت کلا ولسوال عبدالمناف فیضي بي بي سي ته ویلي، طالبان اوسمهال ولسوالۍ او د پولیسو قوماندانۍ ته نږدې شوي او د طالبانو ځپلو لپاره د امنیتي ځواکونو هڅې تر اوسه بې پایلې دي.

فیضي زیاته کړې، د لارو بندېدو له امله، د ای خانم‌بندر کمیساري یو ټپي پولیس، د درملنې لپاره گاونډي هېواد تاجکستان ته لېږدول شوی دی.

نوموړي ویلي: «امنیتي وضعیت کړکېچن دی. په دشت کلا کې مخالفان بریدونه کوي، ای خانم‌بندر کلابند دی، اکمالاتي لارې یې بندې دي. د دشت کلا ښار په سل - یو سلو پنځوس مترو کې طالبان دي، مرستندوی ځواکونه چې راغلي وو، په ای خانم او زوړ ښار سیمو کې عملیات پیل کړل، یو څه پرمختگ یې کړی و، خو بېرته شاتگ ته اړ شوي».

دا په داسې حال کې ده چې له دوو اونیو راپدېخوا، طالبانو له تاجکستان سره پر پوله د دشت کلا ولسوالۍ د نیولو لپاره خپل بریدونه ډېر کړي دي. د سیمې اوسېدونکو ویلي چې اوسمهال د دغې ولسوالۍ پر ډېره برخه طالبان ولکه لري.

په تالقانو کې یو سیمه ییز خبریال او د ای خانم د سیمې اوسېدونکي اسدالله زمري ویلي، د هرې ورځې په تېرېدو د خلکو او پوله ساتو ځواکونو اندېښنې ډېرېږي.

هغه ویلي: «له څو ورځو راهیسې ای خانم‌بندر او کمیساري د طالبانو له لوري کلابند دي، ټولې لارې بندې دي، په ټول دشت کلا کې حالات کړکېچن دي. طالبانو ښار کلابند کړی».

د ای خانم‌بندر مسوول منوچهر عدیل ویلي، د تېر کال د نښتو له امله، ۷۰ سلنه بندري ودانۍ او تجهیزات چې څه باندې ۱۳ میلیونه ډالره لگښت پرې راغلی و، له منځه تللي دي.





# «يو کمربند - يوه لار» به افغانستان د رڼې ملغلرې په څېر بيا وځلوي

◀ ليکنه: په افغانستان کې د چين لوی سفير ليوجين سونګ - وروستۍ برخه:

ولې چين دغه وړانديز کوي، لږترلږه څلور لاملونه لري:

لومړی- چين غواړي لا مساوي، هر اړخيز او باکيفيته پرمختګ وکړي، څو د خپل هېواد لوېديځه برخه استخراج کړي، د دې سيمې ښېګڼې څرګندې کړي، د ختيځې برخې او ساحلي سيمې په مرکز کې اوسنی اقتصادي حالت بدل کړي او په ټول هېواد کې هر اړخيز او مساوي پرمختګ وکړي.

دويم- د نړيوال اقتصاد او سوداګرۍ کمزورتيا، پر اسيايي اقتصاد د فشار زياتول او پر راتلونکي پرمختګ د بېلابېلو ارګانونو له خوا د وړاندوينې ټيټوالی دی. په داسې حال کې چې اغېزمنې پانګونې، د بنسټيزو تاسيساتو جوړونې او دغه راز له عرضي اړخه د مجموعي اصلاحاتو له لارې د اقتصادي پرمختګ هڅونې ته اړتيا شته.

درېيم- د اسيا په دننه وچه او منځنۍ اسيا کې د اقتصاد د کمزورۍ کېدو حالت بدلون کوي. موږ د مصنوعي سپوږمکۍ له خوا په اخيستل شوو عکسونو کې پيدا کولای شو، هر چېرې چې د ډېوو يا څراغونو رڼاګانې ډېرې ليدل کېږي، د اقتصاد پرمختللي ښارونه دي چې اکثريت يې د اروپا او اسيا په ساحلي سيمو کې واقع دي. دا نه يوازې د اقتصادي اصولو په اثر، بلکې د کلوتيالېزم توليدات هم دي. اوس موږ هيله لرو چې د اسيا او اروپا لويو وچو ته هر اړخيز او پوره پرمختګ ورکړو او منځنۍ اسيا د پرمختګ پر يوه نوي ماشين بدله کړو.

يوه نړيوال څېړنيز اقتصادي ارګان يوه شمېرنه درلوده، چې په ۱۶۰۰ ز کال کې د نړيوال اقتصاد مرکز د افغانستان په شاوخوا کې و، تر دې وروسته پرله پسې پر لوېديځ لوري اتلانتيک سمندر ته انتقال شو. په ۱۹۵۰ ز کال کې يعنې د نوي چين د جوړېدو په پيل او د پاچا محمدظاهرشاه د واکمنۍ په وخت کې، دغه مرکز خپل لوری وګرځاوه او اوس په چټکۍ سره ختيځې خوا ته حرکت کوي چې بيا افغانستان ته نږدې کېږي. فرصتونه يوازې چمتو کېدونکو کسانو ته برابرېږي. هيله کوم چې موږ دغه تاريخي تمايل په ګډه ونيسو.

څلورم- دغه نړۍ څو اړخيز اقتصاد، ازادې سوداګرۍ، د سترو هېوادونو مسووليت، لوري، باور، ثبات او له بيخ نه د ترهګرۍ او توندلارۍ له منځه وړلو ته اړتيا لري. دغه بيخ په بله ژبه تلپاتې او باعزته سوله، د بېوزلۍ کموالی او د استخدامي فرصتونو زياتوالی دی. دا ټول د افغانستان اړتياوې او کټ مټ د يو کمربند- يوې لارې وړانديز او ابتدايي نيت دی.

د يو کمربند - يوې لارې د وړاندې کولو له پنځو کلونو راهيسې د چين او اړوندو هېوادونو ترمنځ د مالونو تجارتي اندازه ۵۰۰۰ ميلياردو ډالرو ته رسېدلې ده او کلنی زياتوالی يې له ۱،۱ سلنې څخه زيات دی. دغه برياليتوب د نړيوال اقتصاد د کمزورۍ په حال کې پوره شوی دی. په دغو پنځو کلونو کې چين د يو کمربند - يوې لارې په اوږدو کې له پرتو هېوادونو څخه څه دپاسه ۷۰ ميليارده ډالره پانګونه کړې ده، چې کلنی زياتوالی يې ۷،۲ سلنې ته رسېږي. چين د نړۍ په بېلابېلو ځايونو کې د اقتصاد او تجارت د همکاريو ۸۲ ناحيې ابادې کړې دي، ځايي حکومتونو ته يې دوه ميليارده ډالره ماليات ورکړي دي او د دوی لپاره يې څه دپاسه درې لکه استخدامي فرصتونه برابر کړي دي.

زه د افغانستان د ګاونډيو هېوادونو څو بېلګې وړاندې کوم چې افغان ملګري ورسره اشنا دي:

لومړی- د چين د حکومت او تصديو په مرسته په تاجکستان کې د سړکونو او برېښنا متحده ملي شبکه جوړه شوې ده. اړوند سړکونه درې لوري شوي دي، اوسپنيزې لارې او د طبيعي ګازو نلونه چې د چين له خوا ترسره شوي، جوړ شوي دي يا د بشپړېدو په حال کې دي. د دوشنبې دويم نمبر د تود قوت برېښنايي سټېشن چې د چين له خوا جوړ شوی، په ژمي کې د دوشنبې او شاوخوا سيمو د اوو لکو خلکو د برېښنا او تودوخې اړتياوې پوره کړې دي. د چين او تاجکستان ترمنځ تجارتي ارزښت په ۱۹۹۲ ز کال کې دوو ميليونو او ۷۵۰ زره ډالر و او په ۲۰۱۸ ز کال کې دغه رقم يو ميليارد او ۵۰۰ ميليونو ډالرو ته رسېدلی دی. اوس په تاجکستان کې ۴۰۰ چيني تصدۍ شته چې دغه هېواد ته يې تر ټولو زيات ماليات او بهرني اسعار ورکړي دي. چين او تاجکستان د دريو ميلياردو (ينو) په ارزښت، د خپلو پيسو د تبادلې تړون لاسليک کړی دی او د ژن مين بي ينو په وسيله، د پورونو او تجارتي حساب کار د جوړولو په حال کې دی. د اسيا د پانګونې بانک په فعاله توګه د تاجکستان له پروژو څخه هم ملاتړ کوي. دواړه لوري د پانګونې ګډ صندوق د جوړولو په اړه مشوره هم کوي.

دويم- د يو کمربند- يوې لارې په رڼا کې قزاقستان چې د نړۍ تر ټولو لوی په وچه کې بند هېواد دی، د چين په ليان يون ګان کې ارام سمندر ته دروازه پيدا کړې ده. چين او قزاقستان په ګډه يو مقر جوړ کړی دی چې د منځنۍ اسيا د ډېرو هېوادونو د مالونو انتقال او زېرمې پر ميدان بدل شوی دی.

درېيم- د اپرېل په اتمه په سريلانکا کې يوه اوسپنيزه لار پرانيستل شوه چې په ۱۹۴۸ ز کال کې د دغه هېواد له خپلواکۍ وروسته لومړنۍ نوې اوسپنيزه لار هم ده. دا په سريلانکا کې د يو کمربند- يوې لارې يو ابتدايي لاسرسی دی.

د افغانستان بېلابېلې ټولنې دې ته متوجه دي چې افغانستان د يو کمربند- يوې لارې له ابادۍ څخه څه ګټې ترلاسه کولی شي؟

په لنډه توګه افغانستان د اسيا او اروپا د لويې ځمکې په زړه کې په وچه کې پروت هېواد دی. يو کمربند- يوه لار به نه يوازې د افغانانو لپاره خلاصې لارې برابرې کړي، بلکې د افغانستان مسئلو ته د نړيوالې ټولنې بې سارې توجه او هلې ځلې به هم لوړې کړي.

د نړيوال بانک او نورو سازمانونو د اټکل له مخې، د يو کمربند- يوې لارې په هڅولو سره به د نړيوال اقتصاد پرمختګ لږترلږه ۱،۰ سلنه لوړ شي. دغه راز د نړيوال تجارت لګښت او انتقال وخت به په جلاجلا توګه ۲،۲ او ۲،۵ سلنه کم شي او افغانستان ته نږدې د چين- منځنۍ اسيا – لوېديځې اسيا اقتصادي دهليز تجارتي لګښت به لس سلنه کم شي.

د اقتصادي علومو له لحاظه په يو کمربند او يوه لار کې به د افغانستان امتيازونه پياوړي شي. د بېلګې په ډول، خپل موجوديت، سرچينې، د نفوسو جوړښت، بهرنۍ اړيکې، نړيواله توجه او نيمګړتياوې به يې کمې شي. د بېلګې په ډول، د پيسو کمبود، صنعتي کمزورتيا او ځمکه بند حالت. افغانستان به هغه اسانه او ارزانه لار پيدا کړي، چې د نړۍ له نوي سمسور شوي او لوی بازار سره به وتړل شي او لګښتونه به يې هم کم شي. د افغانستان مهم ښارونه او تصدۍ به له ترانسپورټي شبکې سره پيوسته کړي، څو جامع قوت راټول شي او د اقتصادي چټک پرمختګ زمينه به رامنځته شي. د دې ترڅنګ د افغانستان پانګونې، مصرف او صادرات به هم وهڅول شي. کورني او بهرني بازارونه به استخراج شي او استخدامي فرصتونه به زيات شي. خلاصه دا چې له اوسني کمزوري بازار څخه به ووځي.

افغانستان وختي له يو کمربند او يوې لارې څخه د ملاتړ څرګند دريځ ښودلی، له چين سره يې د ګډې ابادۍ يادښت لاسليک کړی او د امنيتي چارو په اړه يې همکاريز ميکانېزم جوړ کړی دی. چين د دې ستاينه کوي او ورته په درنه سترګه ګوري، چې افغان مشرانو، حکومتي څانګو او مختلفو شخصيتونو په دې اړه مثبت دريځ ښودلی دی. چين؛ افغانستان د يو کمربند او يوې لارې د ګډې ابادۍ او وختي لاسرسي مهم ملګری بولي.

دې لارې افغانستان ته په شپږو برخو کې ګټې رسولې او رسوي يې:

لومړی- دوه اړخيز تجارت به زيات شي. د تېر کال له نومبر راهيسې په څلورو مياشتو کې د ۱۵ ميليونو ډالرو په ارزښت، جلغوزي د ٦۴ الوتکو په وسيله چين ته صادر شوي دي. که څه هم تېر کال نړيوال تجارت کمزوری و، خو د چين او افغانستان ترمنځ د مالونو تجارت يو ميليارد او سلو ميليونو ډالرو ته رسېږي. د بېلګې په ډول، د افغانستان غالۍ، د مرمرو ډبرې او زعفران په چين کې ښه پلورل کېږي. سږ کال دواړه لوري چين ته د انارو د صادراتو په اړه مشوره کوي. چين غواړي له افغانستان څخه لازيات توليدات واخلي او ځايي بزګرانو ته لازياتې ګټې ورسوي.

دويم- په افغانستان کې به د چين پانګې زياتې شي. په دغه هېواد کې له ترينګلي امنيتي حالت سره سره، په دغه هېواد کې د چين پانګونې ۵۰۰ ميليونو ډالرو ته رسېدلې دي. د بېلګې په ډول، يو چيني شخصي شرکت په باميانو کې د زعفرانو کاروبار پر مخ بيايي، چې لس ګونه بزګرې کورنۍ ترې ګټه اخلي. يو بل چيني شرکت د کابل په صنعتي پارک کې د برېښنايي سامان الاتو په برخه کې پانګونه کړې ده. په وروستيو کې مې د ولسمشر غني په ملګرتيا، د جلغوزو د لومړۍ فابريکې د پرانيستلو په مراسمو کې ګډون وکړ. زه د وارداتو د کمښت او د اقتصادي خپلواکۍ لپاره د افغانستان د کوښښونو ستاينه کوم. په راتلونکي کې به چين د افغانستان د کليوالو تصديو او توليدي صنعت د هڅولو لپاره لازياتې مرستې برابرې کړي.

درېيم- د افغانانو ښوونيز فرصت به زيات شي. افغانستان د يو کمربند او يوې لارې د ابادۍ په اړه د چين مهم ملګری دی. چين هر کال افغان ځوانانو ته ۱۵۰ ښوونيز سکالرشيپونه او زر ښوونيز فرصتونه برابروي، چې افغان ځوانان او مسلکي وګړي ترې ګټه اخلي. تېر کال د افغانستان تشريفاتي کارکوونکو د چين په ملي هوټل کې زده کړې کړې دي او اوس د افغانستان د ډيپلوماتانو پلاوی د چين له هه نان ولايت څخه ليدنه کوي. د دې ترڅنګ، د افغانستان په اړه درې اړخيز همکاريز ميکانېزمونه مخ پر زياتېدو دي. د بېلګې په ډول، چين او هند په ګډه د افغان پوليسو روزنه کوي او چين- امريکا مشوره کوي، چې د افغانستان د ښوونې او روزنې د څارنې سيسټم نور هم بشپړ کړي.

څلورم- د افغانانو امنيتي احساس به پياوړی شي. له افغانستان سره د چين تجارتي همکارۍ او مرستې به په افغانستان کې کارموندنه زياته کړي، چې له دې سره به د بېوزلۍ د کمښت او د تروريستي اعمالو د کمېدو او توندلارۍ د له منځه وړلو لپاره به ګټور وي. چين او افغانستان د يو کمربند او يوې لارې د امنيت همکاريز ميکانېزم جوړ کړی دی، چې د خلکو امنيت ساتي او ترهګر ځپي.

پنځم- د افغانستان نړيوال او کلتوري اغېز به زيات شي. ۱۳۰۰ کاله مخکې د چين عالي راهب شيوان زانګ د زده کړې لپاره د افغانستان له لارې هند ته تللی و او د باميانو د بودايي مجسمې يادونه يې په خپل کتاب کې کړې وه، چې د دې مجسمې په اړه يوازينی تاريخي سند بلل کېږي. اوس د يو کمربند او يوې لارې په رڼا کې، په چين کې د کندهار او باميانو بودايي مجسمې د کارپوهانو ډېرې پاملرنې ځان ته جلب کړې دي. د چين او افغانستان د تاريخ پېژندونکو ترمنځ تګ راتګ زيات شوی دی. ښايي له مس عينک څخه بودايي اثار د يو کمربند او يوې لارې د سرمشريزې غونډې په موده کې د اسيايي تمدن په نندارتون کې ننداره چيانو ته وړاندې شي.

شپږم- د افغانستان نړيوال چينلونه او ډيپلوماتيک غوره والی به زيات شي، چې په وچه کې د يو بند او مرسته اخيستونکي هېواد لپاره مهم دی.

چينايان او افغانان پر دې پوهېږي چې چکچکې کول دوو لاسونو ته اړتيا لري. نو د يو کمربند او يوې لارې ابتدايي لاسرسی د چين او افغانستان کوښښونو ته اړتيا لري. د بېلګې په توګه، په چين کې د افغان سوداګرو او تجارتي ټولنې د رول پياوړتيا، د افغان ځانګړو توليداتو تبليغات، د چيني ژبې له ښوونې څخه ملاتړ او د چين او افغانستان ترمنځ د تجارتي پل لازيات قوي کول او داسې نور.

افغانان يو متل لري، دوی وايي: «څه چې کرې هغه به رېبې». که افغان خوا هلې ځلې وکړي، نو د رضايت وړ پايلې به ترلاسه کړي.

په چين کې يوه اصطلاح ده چې وايي، د لاس دوه مخونه يو شان مهم دي. چين په يو کمربند او يوه لار کې ټولو ګډون کوونکو ته په يو نظر ګوري، مساوي کار ورسره کوي او جدي پانګونې په کې کوي. د کنسرټ په توګه هر موسيقي غږوونکی اړين اهميت لري.

د لګښت، اساسي تاسيساتو او تجارتي دود له لحاظه، د افغانستان اوسني هوايي دهليزونه ښه دي؛ مګر د ځمکني او سمندري انتقال مرستندويه چانل بلل کېږي. په نږدې موده کې به د کراچۍ بندر د افغانستان د بهرني تجارت لپاره اهميت ټيټ نه کړي او په راتلونکي کې به د ګوادر بندر يو ښه انتخاب هم وي. دا د افغانستان لپاره د چين او پاکستان ترمنځ د اقتصادي دهليز اهميت هم دی.

ګاونډيان نه بدلېږي، نو نيک ګاونډيتوب ستر اهميت لري. چين هيله لري چې افغانستان او پاکستان مقابل باور او ښې اړيکې ولري. د تېر کال په پای کې د چين، افغانستان او پاکستان د بهرنيو چارو وزيرانو ترمنځ په ناسته کې، د يو کمربند او يوې لارې د ابادۍ پر سر ډېر ټينګار شوی دی او غواړي چې افغانستان او پاکستان اړيکې ښې کړي او د افغانستان، پاکستان او ځايي هېوادونو ترمنځ پيوستون رامنځته شي. اوس درې واړه حکومتونه د افغانستان او پاکستان ترمنځ د سړکونو او اوسپنيزو لارو د تړلو د پلان په اړه سنجش کوي.

افغانستان د چين-منځنۍ اسيا- لوېديځې اسيا او د چين ـ پاکستان دواړو اقتصادي دهليزونو په منځ کې پروت دی. که افغانستان د شمال او جنوب له ګاونډيو سره ښې اړيکې وساتي او ازاد تجارت وکړي، نو په يو کمربند او يوه لار کې به د افغانستان حيثيت، موجوده امتياز او د سيمې په لړۍ کې ځای نور هم لوړ کړي. که په افغانستان کې امنيتي حالات او سوداګريز چاپېريال ښه شي، نو د چين په ګډون د نړيوالو پانګوالو لازياتې پاملرنې به ځان ته جلب کړي. اوس تر ټولو لوی مشکل امنيت دی.

ګرانو دوستانو! په چين او افغانستان کې يو ورته متل دی چې وايي، په يو ګل نه پسرلی کېږي. د يو کمربند او يوې لارې او سيمه ييزې اقتصادي همکارۍ موخه له ګلانو څخه ډک پسرلی دی. نن ورځ د يو کمربند او يوې لارې سرعت ښه چټک اورګاډی دی، نه اوښ. د چين پخوانی مشر ماوځه دونګ ويلي، چې سل زره کلونه ډېر اوږده دي، موږ بايد هره ثانيه ونيسو. هيله ده چې موږ د افغانستان د جوړجاړي فرصت ونيسو او يو کمربند او يوه لار پرمخ بوځو، څو افغانان د لمر تر وړانګو لاندې سوله ييز پرمختګ وکړي!

## پارلماني چارو وزارت: د ملي شورا ۱۷مه دوره به تر راتلونکې پنجشنبې پرانيستل شي

د ملي شورا د نوې دورې د کار په پيل کې له يوې نيمې مياشتې ځنډ وروسته، په پارلماني چارو کې د دولت وزير فاروق وردګ ويلي، ښايي چې د ملي شورا ۱۷مه دوره به د راتلونکې پنجشنبې تر ورځې پرانيستل شي.

نوموړي د دغه وزارت د کلني راپور تر وړاندې کولو وروسته خبريالانو ته ويلي: «کوم معلومات چې له موږ سره شريک شوي، تر راتلونکو درې- څلورو ورځو پورې به ملي شورا پرانيستل شي، يعنې د ملي شورا اوولسمه دوره به تر را روانې پنجشنبې يا يوه ورځ مخکې يا وروسته اعلان شي».

دا په داسې حال کې ده چې د ملي شورا د غړو ژمنۍ رخصتۍ هر کال د کب مياشتې په ۱۵مه پای ته رسېږي او د قانون له مخې، د کب په ۱٦مه بايد نوې دوره د ولسمشر له خوا پرانيستل شي.

خو دا ځل ارګ ويلي وو چې د نويو وکيلانو تر معرفي کېدو پورې، نوې دوره نه پرانيستل کېږي. د ملي شورا د اوولسمې دورې په پرانيستلو کې ځنډ، د ولسي جرګې د ټاکنو د وروستيو پايلو نه اعلان دی، چې د کابل په ګډون د ځينو ولايتونو پايلې لا هم نه دي اعلان شوې.

دا ځنډ د پخوانيو او نويو وکيلانو، د مدني ټولنو د استازو او حقوقپوهانو له نيوکو سره مخ شوی او ويلي يې دي چې د مقننه قوې يا ملي شورا نشتون د نظام د کمزورۍ کېدو لامل ګرځي.

که څه هم ټاکنيزو کمېسيونو په دې اړه له څه ويلو ډډه کړې، خو د تېرې جمعې په ورځ د ټاکنيزو شکايتونو کمېسيون منشي قاسم الياسي ازادي راډيو ته ويلي وو، چې تر راتلونکو دوو اونيو پورې به د کابل په ګډون، د پاتې ولايتونو د ولسي جرګې د ټاکنو پايلې اعلان شي.

نوموړي ويلي وو: «د کوچيانو حوزه پاتې ده چې ښايي يکشنبه يا دوشنبه وروستۍ شي، پکتيا هم مخ په خلاصېدو ده، کندوز، بغلان او ميدان وردګ ولايتونه پاتې دي چې د کابل پرته به د راتلونکې اونۍ تر پايه د نورو ټولو ولايتونو پايلې وروستۍ شي».

د ټاکنيزو شکايتونو کمېسيون دغه راز ويلي، چې د ولسي جرګې د نويو غړو دوه ثلثه اعلان شوي او که حکومت وغواړي، ښايي وکولای شي چې د قانون پر بنسټ نوې ملي شورا پرانيزي.



## د کتاب خبرې

# د لوی فکر جادو

لیکوال: دوکتور ډیوېډ شوارتز
ژباړن: میراحمد یاد

### نهم څپرکی
### پر خلکو ښه گومان کوئ




دا لس اصول له خلکو سره د مینې لپاره جوړ شوي دي او عمل پرې اسانه دی. جونسون په همدې اصولو کانگرس کې رایې ترلاسه کړې او خلکو یې ملاتړ وکړ. پر همدې اصولو ژوند، جونسون په اسانه بري ته ورساوه.

تاسې دا اصول بیا ولولئ، په دې کې د نورو خلکو سپکاوی نشته. دا پکې نشته چې نور خلک دې د اختلافاتو او سوی تفاهمونو د حل لپاره لومړی گام واخلي. دا پکې نشته چې نور خلک گڼي ساده گان دي.

لوی خلک هغوی دي چې د صنعت، هنر، ساینس او سیاست په لوړو څوکو کې دي، دوی انسان دوسته او صمیمي خلک دي. دوی پر دې ښه پوهېږي چې د خلکو په زړونو کې ځای څنگه پیدا کړي.

د ملگری پېرلو هڅه مه کوئ، ځکه ملگري د پېر و پلور شی نه دی. که د ریښتینې مینې له مخې ډالۍ ورکړل شي او ریا پکې نه وي، نو دا د ملگری اساس قوي کوي، خو په کومه ډالۍ کې چې اخلاص نه وي، دا سودا او رشوت دی.

څو کاله مخکې له نوي کال څو ورځې وړاندې د یوه ټرانسپورټي شرکت د رئیس په دفتر کې وم. زه چې څنگه وتم، په دې وخت کې د ټایرونو د دفتر یوه استازي ډالۍ راوړله او دفتر ته راننوت. زما ملگری ډېر خپه شو او په ډېر خپگان یې هغه کس ته وویل چې ډالۍ بېرته خپل خاوند ته ورسوه. سړی چې لاړ ملگري مې راته وویل: (چې ستا زړه کې څه را نه شي! زه خلکو ته ډالۍ ورکوم او ډالۍ ترې اخلم، دا مې خوښېږي.)

بیا یې د یو څو شرکتونو نامې واخیستې چې ده ته یې نوې کال کې ډالۍ ورکړې وې.

ملگري مې راته وویل: ( که ډالۍ یوازې په دې خاطر راکول کېږي چې بېرته زما د شرکت له کاري امکاناتو گټه واخیستل شي، نو هغه ډالۍ هېڅکله نه قبلوم، ځکه دا رشوت گڼم. ما دې شرکت سره درې کاله مخکې اړیکې پرې کړې وې، ځکه کار یې زما په زړه نه و او کارکوونکي یې هم راباندې ښه نه لگېدل، خو پلورونکي یې اوس هم راسره اړیکه کوي.

غوسه په دې راځي چې یوه اونۍ مخکې یې پلورونکی دلته ناست و، ماته یې وویل: (موږ به خوښ شو که بیا له تاسې سره کار وکړو، زه به له شرکت سره اړیکه ونیسم چې سږ کال تاسې سره ښه معامله وکړي.) نو که ما یې اوس ډالۍ منلې وی، بله اړیکه کې به ده حتمن همدا خبره راته کوله چې زموږ ډالۍ دې خوښه وه.) نو ملگري نه اخیستل کېږي، نه پېرل کېږي او نه پلورل کېږي، که مو یې هڅه وکړه، نو دوه تاوانه به وکړو:

١. پیسې به مو تاوان شي.
٢. نور خلک به رانه سپک شي.

په ملگری پیلولو کې مخکې شئ، رهبران همداسې کوي. موږ په اسانه دا ویلی شو: پرېږده چې هغه زنگ راووهي، پرېږده چې هغه لومړی راشي، پرېږده چې هغه لومړی سلام را واچوي.

نور خلک همداسې پرېښودل او سترگې پټول هم پرې اسانه دي.

دا کار اسانه دی، خو له خلکو سره مینه نه ده. که تاسې ټول عمر په دې تمه ناست وئ چې نور خلک دې لاس در اوږد کړي، نو ملگري به مو لږ وي.

د مدیرانو یوه ځانگړنه دا ده چې د خلکو پېژندلو او اړیکې ټینگولو لپاره لومړی گام اخلي. دا ځل مو چې لویه غونډه کې گډون کاوه، یوه مهم ټکي ته ډېر پام وکړئ: هلته تر ټولو څرگند کس هغه دی چې په خپله پېژندگلوۍ کې ډېر فعال وي.

لوی خلک هغه دي چې تاسې ته راشي، لاس درکړي او درته ووایي چې زه فلانی یم. تاسې وگورئ، ورته ځیر شئ، پوه به شئ چې د سترو خلکو د سترتوب یو لامل دا دی چې د ملگری او اړیکو جوړولو هڅې کوي. په خلکو ښه گومان کوئ، زما یو ملگری وایي: (زه به ورته ارزښت نه لرم، خو ماته ارزښت لري، په دې خاطر ورسره ځان بلدوم.)

تاسې کله لیدلي ویو چې لېفټ ته په تمه ولاړ خلک څنگه غلي وي؟ زیاتره خلک خپل ملگري سره هېڅ خبره نه کوي. یوه ورځ مې ویل راځه یوه تجربه وکړه.

نیت مې وکړ چې ماغوندې لېفټ ته په تمه ولاړ نابلده کس سره وغږېږم. پنځه ویشت ځله مې د خلکو غبرگون وازمایه او پنځه ویشت ځله مثبت و.

نن سبا په ښارونو کې زیاتره وخت له نابلده خلکو سره خبرې نه کېږي، خو اوس هم زیاتره خلک دا کار کوي او دا کار یوه لویه گټه هم لري:

که موږ نابلده سړي ته په زړه پورې خبره وکړه، نو هغه خوشالېږي او له امله یې تاسې خپله هم د خوښۍ او ارامتیا احساس کوئ. تاسې چې بل ته خوږه خبره کوئ، خپل قوت او خوشالي هم زیاتوئ، داسې لکه انسان چې یخ ژمي کې، تاوده موټر ته ور وخېژي.

دلته شپږ هغه لارې ښودل کېږي چې په لړ مخکې والي سره یې ښه ملگري پیلولای شئ:

١. هره ورځ په هر ځای لکه مېلمستیاوو، ناستو، موټرو، الوتکو، کار ... کې له فرصته په استفادې نورو ته ځان معرفي کوئ.

٢. ځان ډاډه کړئ چې مقابل لوري مو په نوم سم پوه شوی دی.

٣. پر دې ډاډه شئ چې د مقابل لوري نوم د هغه په څېر تلفظ کولای شئ.

٤. د مقابل کس نوم ولیکئ او سم یې ولیکئ. ځکه خلک له خپل نوم اخیستو سره ډېر حساس دي او که ممکنه وي د ټلیفون شمېره او پته هم ترې واخلئ.

٥. که غواړئ چې نوي ملگري لا ښه وپېژنئ، لیک ورته ولیکئ، مسېج ورته وکړئ یا ورته زنگ ووهئ. دا مهمه خبره ده چې بریالي خلک ملگري په مسېجونو، لیکونو او ټلیفوني اړیکو پالي.

٦. وروستۍ او مهمه خبره دا ده چې له نابلده خلکو سره په زړه پورې خبرې وکړئ. دا کار تاسې خپلې مخې ته د پراته کار لپاره تیاروي او قوت درکوي.

دوام لري...

# وانواتو

حشمت الله نوري



وانواتو د ملغلرې د سیند ختیځ لوري ته د استرالیا په ختیځ کې د ختیځو طول البلدونو د ۱۶۶ او ۱۷۱ درجو او د جنوبي عرض البلدونو د ۱۲ او ۲۱ درجو ترمنځ موقعیت لري. پراخوالی یې ۴۶۹۰ کیلومتره مربع دی، چې له دې پلوه د نړۍ ۱۳۷م لوی هېواد دی.

ختیځ ته یې فیجي، لوېدیځ ته یې استرالیا، جنوب ته یې د کالیدونیا ټاپوگان او شمال ته یې د سولومان ټاپوگان موقعیت لري.

وانواتو له ۸۰ لویو او کوچنیو ټاپوگانو څخه جوړ شوی داسې هېواد دی، چې د ارام سمندر په جنوبي برخه کې د فیجي، استرالیا او نوي کالیدونیا تر منځ، په ۸۰۰ کیلومتره اوږده سیمه کې پروت دی. د دغه هېواد ډېری غرونه په گڼو استوایي ځنگلونو پوښلي دي. د ایفاتي په ټاپو کې یې د مگنیزیم سترې زېرمې شته او خاوره یې کرنې ته جوړه ده. د دغه هېواد ډېری خلک په یاد ټاپو کې اوسېږي او پلازمېنه یې هم په همدغه ټاپو کې موقعیت لري.

وانواتو جگ غرونه او اوږده سیندونه نه لري او په نیمو ټاپوگانو کې یې څوک ژوند نه کوي. د دغه هېواد ټیټې ساحلي سیمې هوارې او د کرنې وړ دي.

د دغه هېواد پلازمېنه پورت ویلا ښار دی. د ټولو وگړو شمېر یې ۳۰۰ زره تنه اټکل شوی دی. دغه راز د نفوسو گڼوالی یې په هر کیلومتر مربع سیمه کې ۱۹ تنو ته رسېږي. د دغه هېواد ۳۵ سلنه وگړي په ښارونو او پاتې ٦٥ سلنه نور یې بیا په کلیو او بانډو کې ژوند کوي. د یاد هېواد د قانون له مخې، هره کورنۍ په ټول عمر کې د دریو ماشومانو د درلودو حق لري. ۸۵ سلنه وگړي یې مسیحیان دي او پاتې نور یې د بېلابېلو دینونو او مذهبونو پیروان دي. بیسلاما بومي، انگلیسي او فرانسوي یې رسمي ژبې دي. دغه هېواد د اداري وېش له پلوه پر شپږو ولایتونو وېشل شوی دی. انتا، پورت ویلا، هوموبای او تالوماکو یې لوی او مشهور ښارونه دي.

د وانواتو نوی اساسي قانون د ۱۹۸۰ ز کال د جولای په ۳۰مه نافذ شوی دی. ولسمشر یې د ټاکنو د کمېټې له خوا د پنځو کلونو لپاره غوره کېږي. دغه کمېټه د وانواتو د ولسي جرگې د غړو او د سیمه ییزو شوراگانو له مشرانو څخه جوړه شوې ده. د دغه هېواد د اساسي قانون له مخې، د هغه گوند یا د گوندونو د ائتلاف مشر چې په ټاکنو کې ډېرې رایې وگټي، د ولسي جرگې د غړو له منځه او د دې جرگې له خوا د هېواد د لومړي وزیر په توگه ټاکل کېږي.

د وانواتو حقوقي نظام د فرانسې او انگلستان د حقوقي سیستمونو له مخې جوړ شوی دی. ستره محکمه د دغه هېواد تر ټولو لوړ قضایي ارگان دی، چې په ټول هېواد کې حقوقي شخړې، جرمونه او جنایتونه څېړي او پرېکړې کوي. د سترې محکمې رییس یې د ولسمشر له خوا د لومړي وزیر او د مخالف گوند یا گوندونو د مشرانو په مشوره ټاکل کېږي. د وانواتو د سترې محکمې درې نور قاضیان د ولسمشر له خوا د هېواد د قضایي جرگه گۍ په مشوره غوره کېږي.

د پرمختگ میلانیزیایي گوند، د ملي یووالي گوند، د منځلارو گوند، نوې ټولنه او زموږ خاوره گوند د یاد هېواد مشهور او مخکښ گوندونه دي. دغه هېواد د ۱۹۸۰ ز کال د جولای په ۳۰مه له فرانسې او انگلستان څخه خپلواکي واخیسته، نو له همدې کبله د جولای ۳۰مه په دغه هېواد کې هر کال د خپلواکۍ د ملي ورځې په نوم نمانځل کېږي. یاد هېواد د نورو نړیوالو ټولنو ترڅنگ، په ۱۸۹۱ ز کال کې د ملگرو ملتونو غړیتوب هم ترلاسه کړ.

کرنه د وانواتو د اقتصاد د ملا تیر بلل کېږي. کرنه د دغه هېواد ۷۰ سلنه خلکو ته د ژوند امکانات برابروي او ۰۹ سلنه ځمکه یې د کرنې وړ ده.

کبان، تمویلي خدمات، سوداگري او توریزم د وانواتو د اقتصاد نورې مهمې څانگې بلل کېږي. په ۲۰۰۸ ز کال کې څه د پاسه نږدې ۲۰۰ زره سیلانیان دغه هېواد ته په سفر تللي وو. په داسې حال کې چې دا شمېره یوولس کاله وړاندې ۵۰ زرو ته رسېده. ځنگلونه د وانواتو په اسعاري عوایدو کې ستره ونډه لري. د دغه هېواد کانونه په یادولو نه ارزي. د وانواتو د ډېر وړوکي صنعتي سکټور تولید، یوازې کورنیو مارکېټونو ته وړاندې کېږي. دولت پر وارداتي مالونو باندې د گمرکي محصولاتو له لارې ډېر عواید ترلاسه کوي. د گوتو په شمار صادراتي مالونو، د طبیعي ښېښو زیانونه او د سیمې له غټو مارکیټونو څخه ډېر لرې والي، د وانواتو د وړوکي اقتصاد لپاره ډېرې ستونزې جوړې کړې دي. په دې وروستیو کلونو کې د وانواتو دولت هڅه کوي چې د خپل مالي سکټور ټول قوانین په پام کې ونیسي او ډېر کار کوي چې د ورځ په ورځ زیاتېدونکو سیلانیانو د منلو لپاره هوایي ډگرونه، هوټلونه، رسټورانټونه، پارکونه او نور تفریحي تاسیسات جوړ کړي. دولت یې همداشان په پام کې لري چې منځنۍ او لویې سوداگریزې بېړۍ واخلي، کرنې ته پراختیا ورکړي او د څارویو د روزنې فارمونه جوړ کړي.

د وانواتو ۱۱ سلنه ځمکه د کرلو وړ ده. د دغه هېواد پاتې خاوره دایمي څړځایونو، ۷۵ سلنه ځنگلونو او ۱۱ سلنه غرونو، غونډیو، ښارونو او د استوگنې کلیوالو سیمو نیولې ده. د وانواتو دولت د ځنگلونو ساتنې او پالنې ته ډېره پاملره نه ده کړې او هڅه کوي ټولې هغه ځمکې چې نه کرل کېږي، په ځنگلونو وپوښي.

د دغه هېواد ۷۰ سلنه خلک د کرنې په سکټور کې پر کار بوخت دي او د هېواد ۲۵ سلنه ناخالص کورني تولیدات هم له همدغه سکټور څخه لاس ته راځي. لرگي، قهوه، کچالو، ځمکني بادام، میوې، سابه، غوښه او لبنیات د دغه هېواد د کرنې او څارویو مهم تولیدات دي.

د دغه هېواد غټ تجارتي شریکان استرالیا، سنگاپور، جاپان، نیوزیلنډ، فیجي، چین او امریکا دي.

د وانواتو د ټلیفون کود ۰۰٦٧٨ او د انټرنېټ کود یې بیا VU دی، چې ټولټال یې دوه زره کسان لاسرسی ورته لري.

دغه هېواد د ناخالص کورني تولید او سړي سرکلني عاید په حساب، د استرالیا او نړۍ له پرمختلونکو هېوادونو څخه بلل کېږي. په دغه هېواد کې له ۱۵ کلونو څخه پورته ۹۰ سلنه خلک پر لیک او لوست پوهېږي. په وانواتو کې له ٦-۱۴ کلنو ماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره زده کړې وړیا او جبري دي.

له تاریخي څېړنو څخه داسې ښکاري، چې د وانواتو په ځینو ټاپوگانو کې څو زره کاله پخوا خلک اوسېدل. تور هیردال نامتو ټولن پېژندونکی وایي، چې دغه خلک له امریکا څخه دغو ټاپوگانو ته راغلي وو، خو د کرنې ډول او فرهنگي ورته والی بیا وایي، چې دغه خلک له اندونیزیا څخه دلته راغلي دي.

په ۱٦۰٦ ز کال کې لومړنی اروپایي فرنانډو کیروس وانواتو ته ورسېد او هلته یې دوه لوی ټاپوگان ولیدل. فرنانډو کیروس گومان کړی و، چې جنوبي قطب ته رسېدلی؛ ځکه یې پر دغو ټاپوگانو د سپېڅلي اروا سیمې نوم کېښود. کابو ۱۵۰ کاله وروسته په ۱۷٦۸ ز کال کې د فرانسې بوگینویل او بیا په ۱۷۷۴ ز کال کې انگلیسي جمیز کوک د اوسني وانواتو ځینو ټاپوگانو ته ورسېدل. جیمز کوک د ټاپوگانو دغه ټولگې له شمال څخه تر جنوب پورې ټول ولیدل. د سیمې نقشه یې جوړه کړه او دغه ټاپوگان یې چې په نږدې ۸۰۰ کیلومتره واټن کې خواره واره پراته وو، د سکاټلند د هیبراید ټاپوگانو ته د ورته والي له امله، نیوهیبرایدز ونومول.

د ۱۹مې پېړۍ په شلمه لسیزه کې ډېر اروپایي مسیحي مبلغین وانواتو ته ورسېدل او ژر هلته د انگلیسي او فرانسوي مهاجرو کوچني ښارگوټي جوړ شول، چې ځینې ټولنې یې رامنځته کړې. د وانواتو د خلکو د هلو ځلو له امله، د هېواد مشورتي ټولنه رڼگه شوه او ځای یې داسې ولسي جرگې ونیو، چې له ۴۲ غړو څخه یې ۲۹ د وانواتو د خلکو له خوا ټاکل کېدل.

د ۱۹۷۵ ز کال په ښاري ټاکنو کې په لوگانویل او ویلا کې د فرانسې کورواکي پلویان مخکې وو او ډېرو سیاسي مشرانو له انگلیسانو څخه وغوښتل، چې خپل پوځونه له نیو هیبرایدز څخه وباسي.

د وانواتو لومړنۍ ولسي جرگې د هېواد د پوره خپلواکۍ لپاره گړندي گامونه اوچت نه کړل. د وانواکوا خپلواکي غوښتونکی گوند له جرگې څخه ووت او جرگه ړنگه شوه. د ۱۹۷۷ ز کال په پیل کې په ټاپوگانو کې د انگلیس- فرانسې د گډ حکومت له مشرانو سره له سلا مشورې وروسته، نوې ټاکنې وشوې او د ولسي جرگې ټول ۲۴ غړي د وانواتو د خلکو لخوا وټاکل شول. د ۱۹۷۷ ز کال په جولای کې د وانواتو د ټاپوگانو د استازو او انگلیسانو او په ۱۹۸۰ ز کال کې له فرانسویانو سره داسې تړونونه لاسلیک شول، چې د وانواتو بشپړې خپلواکۍ ته یې لاره پرانیستله.

د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د ستراتېژیکو اړیکو په کتاب کې د وانواتو نوم نشته، نو داسې ښکاري چې دغه دواړه هېوادونه خپلو کې هېڅ راز اړیکې نه لري.

د کابل او پورت ویلا ښارونو ترمنځ د وخت توپیر ٦:۳۰ ساعته او همدا راز د هوا له لارې واټن بیا ۱۱۷۸٦ کیلومترو ته رسېږي.

# د سترې محکمې پر پرېکړې غبرگونونه؛

## د ولسمشر د کار دوام د غبرگولي تر لومړۍ نېټې ورهاخوا قانوني مشروعيت نه لري



سترې محکمې د نوي ولسمشر تر ټاکل کېدو پورې د ولسمشر غني کاري موده تمديد کړې ده. سره له دې چې د ملي يووالي حکومت مشرانو له لومړۍ کاري ورځې، پر وخت د ټاکنو پر ترسره کولو او په ټاکنيزو کمېسيونونو کې د اصلاحاتو راوستلو ژمنه کړې وه، خو اوس يې چې وخت مخ پر پوره کېدو دی، نو سترې محکمې يې کاري موده وغځوله. که څه هم د اساسي قانون له مخې د ولسمشر غني کاري موده يوه مياشت وروسته د جوزا په لومړۍ نېټه پای ته رسېږي، خو ولسمشرۍ ماڼۍ ويلي چې ولسمشر غني به شپږ مياشتې نور هم خپلې دندې ته ادامه ورکوي.

سياسي جريانونه او د ولسمشريزو ټاکنو نوماندان د سترې محکمې دغه تصميم د قانون خلاف بولي او وايي چې دوی پر داسې يوه طرح کار کوي، چې د جوزا تر لومړۍ نېټې وروسته بديلې لارې وگوري.

د سترې محکمې د پرېکړې له مخې، د اساسي قانون پر اساس بايد ټاکنې د ولسمشر تر لرې کېدو دوې مياشتې مخکې شوې وای، خو دا چې ټاکنې ځنډېدلې او د واک خلا رامنځ ته نه شي، د خپلو صلاحيتونو له مخې يې د ولسمشر غني کاري موده د نوي ولسمشر تر ټاکل کېدو پورې تمديد کړې ده. سترې محکمې ويلي چې په هېواد کې د واک د دوام او نوي ولسمشر تر راتگ پورې به ولسمشر غني پر خپل ځای وي.

بل پلو ارگ بيا تر دغه پرېکړې وړاندې ويلي وو، چې ستره محکمه د واک په اړه د پرېکړې صلاحيت لري، ځکه تر دې وړاندې هم په ټاکنو کې د ستونزو له امله سترې محکمې ته مراجعه شوې وه او دوی خپله پرېکړه وړاندې کړې وه. د ولسمشر د وياند مرستيال شاه حسين مرتضوي په دې اړه ويلي: ((سترې محکمې تر دې وړاندې هم خپله پرېکړه کړې ده او اوس هم په دې برخه کې خپل قانوني واک لري. دوی به د حکومت په اړه پرېکړه کوي، له هغه پرته هم د اوسني حکومت شپږ مياشتې وخت پاتې دی او تر هغه به خپل کار ته دوام ورکوي)).

سياسي جريانونه او د ولسمشريزو ټاکنو يوشمېر نوماندان د سترې محکمې له لوري د ولسمشر غني د کاري مودې د غځولو په تړاو غبرگون ښيي او وايي چې د اساسي قانون له مخې د ولسمشر غني کاري موده د جوزا يا غبرگولي په لومړۍ نېټه، چې شاوخوا يوه مياشت ورته پاتې ده ختمېږي.

دوی وايي چې د موقت حکومت، سرپرستې يا عبوري ادارې په شمول، په داسې يوه طرحه کار کوي چې د قدرت خلا له رامنځ ته کېدو څخه مخنيوی وکړي. د ولسمشريزو ټاکنو نوماند عنايت الله حفيظ ويلي: ((په ټولو طرحو کار کوو، که هغه موقت حکومت وي، که سرپرسته يا عبوري اداره وي، خو د واک خلا به نه رامنځ ته کېږي)).

د حقوقي چارو شنونکي وايي، چې د ولسمشرۍ څوکۍ انتخاباتي ده او د سترې محکمې په شمول هېڅ مرجع يې د تمديد حق نه لري. شنونکي وايي چې د جوزا په لومړۍ نېټه د ولسمشر غني د کاري مودې له پای ته رسيدو سره هممهاله، د اجرايه رياست د کار دوام هم د قانون خلاف دی. د حقوقي چارو شنونکي سيد حبيب الله هاشمي ويلي، ستره محکمه دا صلاحيت نه لري چې د يوې انتخابي څوکۍ موده وغځوي. په ورته وخت کې اجرايه رياست هم وايي، چې د سترې محکمې له لوري ورته پرېکړې پخوا هم شوې وې او د سترې محکې د حکم پر اساس به نه يوازې ولسمشر غني، بلکې د ملي يووالي حکومت دوره د نوي ولسمشر تر راتگ پورې دوام کوي.

د سترې محکمې له لوري د نوي ولسمشر تر ټاکل کېدو پورې د ولسمشر غني د کاري مودې د تمديد په تړاو څرگندونې داسې مهال دي، چې ولسمشر غني په خپلو ډېرو غونډو او سياسي مجالسو کې ټينگار کړی، چې د خپل وخت تر پوره کېدو به يوه ورځ هم خپل کار ته ادامه نه ورکوي.

# په سريلانکا کې وروستيو بريدونو شاوخوا ۶۰۰ کسانو ته مرگ ژوبله اړولې ده



د راپورونو له مخې، د سريلانکا په دريو کليساوو او هوټلونو کې د چاودنو او ځانمرگو بريدونو له کبله، ۲۰۰ تنه وژل شوي او څه باندې ۴۰۰ نور ټپيان شوي دي.

د رويټرز خبري اژانس د راپور له مخې، دغه چاودنې او بريدونه د دغه هېواد مرکز کولمبو په گډون، په څلورو ښارونو کې په کليساوو او هوټلونو کې شوي دي.

د راپورونو له مخې، دغه چاودنې او ځانمرگي بريدونه د مسيحيانو د اختر پر مراسمو شوي دي. له دغو خونړيو پېښو وروسته، په سريلانکا کې د شپې پر گرځېدو بنديز لگول شوی دی.

د سريلانکا لومړي وزير رانيل ويکرمسينگ له پېښې وروسته د کابينې بېړنۍ غونډه رابللې او پر خپل ټوېټر يې دغه بريدونه په کلکه غندلي دي.

بلخوا يادې پېښې په نړيواله کچه هم توند غبرگونونه راپارولي دي. د نړۍ د کاتوليکانو مذهبي مشر پاپ فرانسېس د واتيکان په سنت پېټرز کې لسگونو زرو خلکو ته په وينا کې ويلي، د مسيحيانو د اختر لمانځنې لپاره په سريلانکا کې پر راټولو شويو وگړو بريدونه، وحشيانه او له ظلم ډک دي.

د امريکا د متحده ايالتونو ولسمشر ډونالډ ټرمپ د يادې پېښې په غبرگون کې، دغه بريد غندلی او په خبره يې دغه بريد «د تروريستانو کار» دی.

ټرمپ پر خپل ټوېټر ليکلي: «د امريکا متحده ايالتونه د سريلانکا ولس ته د زړه له کومې تسليت وايي، موږ مرستو ته تيار يو».

د جرمني لومړۍ وزيرې انگېلامېرکل د سريلانکا ولسمشر ته په يوه ليک کې ليکلي: «دا بوږنونکې ده. هغوی چې د ايستر (مسيحي اختر) د لمانځنې لپاره راټول شوي وو، د يو داسې عمدي شرير بريد هدف شول».

دغه راز د ترکيې ولسمشر رجب طيب اردوغان په خپل ټوېټر کې ليکلي: «زه په سريلانکا کې د ايستر تروريستي بريد په سختو الفاظو غندم. دا پر ټول بشريت بريد دی».

د روسيې ولسمشر ولاديمير پوتين د دغو بريدونو د غندنې ترڅنگ، هغه «ظالمانه او له بدبينۍ ډک» کار گڼلی دی. پوتين د يو پيغام په خپرولو سره ويلي، مسکو د نړيوال تروريزم پر وړاندې په جگړه کې د سريلانکا د باوري شريک په توگه پاتې کېږي.

سريلانکا ۲۲ ميليونه نفوس لري چې ۷۰سلنه يې بودايي مذهبه، ۱۲،۲ سلنه يې هندوان، ۹،۷ سلنه يې مسلمانان او ۷،٦ سلنه يې عيسويان دي.

# ټاکنيزو شکايتونو کمېسيون: له کابل پرته د پاتې پنځو ولايتونو پايلې به د رواني اونۍ تر پايه اعلان شي

د ټاکنيزو شکايتونو کمېسيون ويلي، له کابل پرته د پاتې پنځو ولايتونو پايلې به د رواني اونۍ تر پايه اعلان شي.

دا په داسې حال کې ده چې د ولسي جرگې ټاکنې تېر کال د تلې په وروستيو کې تر سره شوې، خو تر اوسه د ۲۸ ټاکنيزو حوزو وروستۍ پايلې اعلان شوې او د کوچيانو، کابل، کندهار، ميدان وردگو، پکتيا، بغلان او کندوز د ټاکنيزو حوزو وروستۍ پايلې نه دي اعلان شوې.

د ټاکنيزو شکايتونو کمېسيون وياند محمدقاسم الياسي پژواک ته ويلي، له کابل پرته چې ډېرې څېړنې ته اړتيا لري، د نورو پاتې ټاکنيزو حوزو پايلې به هم په روانه اونۍ کې د ټاکنو کمېسيون ته ولېږي او اعلان به شي.

نوموړي نه دي ويلي چې د ټاکنيزو شکايتونو کمېسيون به د کابل د رايو پايلې کله د ټاکنو کمېسيون ته واستوي.

دا په داسې حال کې ده چې په پارلماني چارو کې د دولت وزير، ډاکټر غلام فاروق وردگ تېره ورځ په يوه خبري ناسته کې ويلي، چې روانه اونۍ به د ملي شورا ۱۷مه تقنيني دوره پرانيستل شي.

الياسي په دې اړه ويلي، له دې نه چې ملي شورا په بې برخليک حالت کې وي، غوره ده چې له کابل پرته د نورو ټاکنيز حوزو د ۲۰٦ وکيلانو په گډون پرانيستل شي.

د يادونې ده چې د کابل له حوزې ۳۳ تنه ولسي جرگې ته لار پيدا کوي. دغه راز د غزني ولايت چې ټاکنې يې د ځينو دلايلو له مخې ځنډېدلې دي، د قانون له مخې په ياده جرگه کې ۱۱ غړي لري.

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۷۰ |
| € | ۸۷ |
| Rp. | ۵۳٦ |
| ₹ | ۱۱۲۰ |
| ¥ | ۱۱,۴۰ |
| £ | ۹۹,۸۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |
| **Kam Air** | |
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |
| **flydubai** | |
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بېړني شمېرې

پوليس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزير محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپانه
**مسوول مدير:** اسدالله وحيدي
**مرستيال:** شفيق اميرزی
**اېډېټران:** جواد تيموري او امان الله حنيفي
**ليکوالان:** اېمل خان، نذير احمد سهار
او شفيق همدرد
**خبريالان:** حميدالله حميدي، حکمت آرين
او حشمت الله نوري
**گرافيک او ډيزاين:** ارمان
**چاپخونه:** وايگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!

flydubai
TURKISH AIRLINES
Emirates
ARIANA
0786 55 55 91
0786 55 55 92
0786 55 55 93
0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستۍ برخه، خوست ټاور، لومړی پوړ.

دوشنبه د ۱۳۹۸ د غويي دويمه | د ۲۰۱۹ د اپرېل ۲۲مه | دویم کال |۳٦۷مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۵ | ۲۷ | ۳۵ | ۲٤ | ۳۳ | ۲۷ |
| ۱۲ | ۱٦ | ۱۹ | ۱٦ | ۲۰ | ۱۷ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:٤۵ | لمر ختل ۰۵:۱۵ | ماسپښین ۱۱:۵۳ | مازیګر ۰۳:۳٤ | ماښام ۰٦:۳۰ | ماخوستن ۰۸:۰۱

## نړۍ




## به شکایت‌های نامزدان معترض کوچی‌ها رسیدگی لازم نشده است




لویه څارنوالی، شکایات انتخاباتی نامزدان معترض کوچی‌ها را به کمیسیون شکایات انتخاباتی راجع نموده؛ اما هنوز هم سرنوشت آن در حالی مشخص نیست که هفتهٔ جاری، نتایج نهایی این حوزه اعلام می‌شود.

نامزدان معترض کوچی‌ها در ۲۷ دلو سال گذشته، به لویه څارنوالی عارض شده و مدعی اند که انتخابات ولسی جرگه، با تقلب ها از سوی برخی نامزدان و کمیسیون های انتخاباتی همراه بوده است.

نامزدان یادشده نوشته اند که کمیسیون مستقل انتخابات، در زمان ثبت نام گفته بود که کوچی‌ها می‌توانند در هر محلی که در زمان انتخابات زیست داشته باشند، رای دهند؛ اما ۱۷ روز پیش از انتخابات گفتند، در محلی رای دهند که ثبت نام کرده اند.

نشر نکردن لیست محلات رای‌دهی کوچی‌ها، پُر کردن صندوق های رای از آرای تقلبی در ناحیه ۲۱ شهر کابل، تهدید و اخراج ناظرین کوچی‌ها از مراکز رای‌دهی در این ناحیه، پُر کردن و انتقال صندوق رای به شهرک میرویس، مسدود نگهداشتن برخی مراکز کوچی‌ها در روز انتخابات در کندهار و ندادن اجازهٔ استعمال رای به کوچی‌ها در برخی مراکز این ولایت به بهانهٔ اینکه لیست رای دهنده گان کوچی‌ها موجود نیست، از مواردی است که با جزئیات درج عریضه شده است.

اما ذبیح‌الله سادات معاون سخنگوی کمیسیون مستقل انتخابات در این باره گفته است: «این مسؤلیت کمیسیون شکایات انتخاباتی است که به تمامی موارد و شکایات نامزدان رسیده گی نماید؛ بخاطری که این کمیسیون محکمه انتخاباتی می باشد».

او در مورد نشست های نامزدان معترض کوچی، شریک کردن شکایات از سوی آنها با عبدالبدیع صیاد رئیس پیشین کمیسیون انتخابات و سید حفیظ‌الله کمیشنر پیشین آن، و همچنان در مورد عدم رسیده گی و کتمان مواد از سوی این افراد گفته است: «آنها اکنون در کمیسیون مستقل نیستند که بعد از پرسش از آنها جواب بدهم، ولی لویه څارنوالی می تواند در این موارد از آنها بپرسند».

## د لیبیا پلازمېنې په جنوبي سیمو کې بیا سختې جګړې پیل شوې دي



د راپورونو له مخې، د لیبیا پلازمېنې طرابلس په جنوبي سیمو کې بیا سختې نښتې او جګړې پیل شوې دي.

دا په داسې حال کې ده چې پر دغه ښار د ولکې ټینګولو لپاره د جګړې د ښکېلو لورو ترمنځ، د دوو اونیو په نښتو کې د وژل شویو کسانو شمېر تر ۲۲۰ اوښتی دی.


لیبیا اوسمهال په ختیځ او لوېدیځ کې د دوو سیالو حکومتونو ترمنځ وېشل شوې ده او دواړې خواوې هڅه کوي، چې پر پلازمېنه طرابلس خپله ولکه ټینګه کړي.

جګړه د قوماندان خلیفه حفتر په مشرۍ، د لیبیا د ملي پوځ په نوم د ځواک او د هغو ملېشو ترمنځ روانه ده، چې د ملګرو ملتونو له خوا په رسمیت پېژندل شوي او د ملي یووالي حکومت ته وفادار دي.

په طرابلس کې د ملي یووالي حکومت ته وفادارو ځواکونو ویلي، چې د حفتر د جنګیالیو پر وړاندې یې ځوابي بریدونه پیل کړي دي. قوماندان حفتر د ملي یووالي حکومت پر خلاف، د اپرېل په څلورمه جګړه پیل کړې چې اوسمهال یې پر ډېرو سیمو ولکه ټینګه کړې ده.

نوموړی اوسمهال د جګړې ترځنګ، د لیبیا په ختیځ کې د هغه حکومت ملاتړ کوي، چې د طرابلس د حکومت حاکمیت په رسمیت نه پېژني.

## د داعش او القاعدې په دوو جلا بریدونو کې د سوریې ۵۰ سرتېري وژل شوي دي



د سوریې د بشري حقونو د څار برېټانوی مېشتې ډلې ویلي، د داعش او په القاعده پورې د اړوندو وسله والو په جلاجلا بریدونو کې نږدې ۵۰ دولتي سرتېري او د هغوی ملاتړي جنګیالي وژل شوي دي.

دې ډلې ویلي، په القاعده پورې د تړلې ډلې حیات تحریرالشام وسله والو د حلب ښار په لوېدیځ کې، پر دولتي ځواکونو برید کې ۲۱ سرتېري او د هغوی ملاتړي جنګیالي وژلي دي.

که څه هم په دې سیمه کې په سپټمبر میاشت کې پر یوه لنډمهاله اوربند هوکړه شوې، خو لا هم دغه سیمه ډېره ناامنه ده.

په بله پېښه کې داعش وسله والو د مرکزي ولایت حمص په یوه دښته کې دولتي ځواکونو ته کمین نیولی و، چې وروسته د دواړو لورو ترمنځ جګړې تر دوو ورځو دوام کړی دی.

د سوریې د بشري حقونو د څار ډلې ویلي، په دې جګړه کې د څلورو افسرانو په ګډون، ۲۷ سرتېري وژل شوي دي.

د دې ډلې مشر رامي عبدالرحمان ویلي: «دا دې داعش ډلې د خلافت د له منځه تللو له اعلان وروسته، تر ټولو خونړي بریدونه وو چې د سوریې پر دولتي ځواکونو وشول».


دغه بریدونه څو اونۍ وروسته له هغې کېږي، چې داعش جنګیالي د باغوز په نامه له خپل وروستي مورچل څخه په شا وتمبول شول.

د کردي ډیموکراټیکو ځواکونو له خوا د مارچ په میاشت کې د باغوز په نامه سیمه، د داعش ډلې د غړو له وجوده پاکه اعلان شوې وه.

که څه هم فکر کېده چې باغوز وروستۍ سیمه وه، چې دولت پلوو ځواکونو له داعش ډلې ونیوله، خو کارپوهان خبرداری ورکوي چې داعش ډلې او د هغوی د ایډیالوژۍ د له منځه تلو په مانا نه ده.

## ژوند

## د درد ضد درملو له زیاتې کارونې ډډه وکړئ!



د درد ضد درمل هغه دي، چې استعمال یې ډېر عام دی او ډېری خلک یې د تبې، زکام، سر درد یا نورو دردونو د له منځه وړلو لپاره کاروي.

خو د اوږدې مودې لپاره دغه عادت د ګټې پر ځای زیان لري او ژوند له ګواښ سره مخ کوي.

د ټایوان ملي پوهنتون د روغتون یوې څېړنې پایلو ښودلې، چې درد له منځه وړونکي درمل د زړه د حملې خطر درې چنده زیاتوي او د انسان ژوند له ګواښ سره مخ کوي.


د دې څېړنې لپاره په ټایوان کې د اوو کلونو په جریان کې، روغتون ته د زړه حملې له امله مراجعه کوونکو ۱۰ زرو ناروغانو معلومات د دې لپاره چې درد وژونکي درمل د زړه حملې پر خطر څومره اغېز لري؛ ټول او وڅېړل شول.

له پایلو یې معلومه شوه چې د زکام او نورو عامو ناروغیو پر مهال درد وژونکي درمل کارول د زړه د حملې خطر ۳.۴ چنده زیاتوي.

همدا راز په روغتونونو کې د ناروغانو په سیروم کې دغه ډول درمل اضافه کول، د زړه د حملې خطر ۷.۲ چنده زیاتولی شي.

څېړونکي وایي چې د دغه ډول درملو د استعمال او د زړه حملې ترمنځ د اړیکې د تایید لپاره نورو روغتیایي څېړنو ته اړتیا ده.

## هیله من کسان هرڅه په خپله ګټه تماموي



هغه څېړنه چې په ۲۰۱۳ ز کال کې په ۵۰۰ کوچنیو مخ پر ودې شرکتونو باندې شوې ده او پایلې یې په (درامد) مجله کې خپرې شوې، داسې ویل شوي چې د دغو شرکتونو مدیران په بې ساري ډول راتلونکي ته هیله من ښکارېدل. د دوی دغه هیله مندي د دې لامل شوې وه، چې کارونه یې نور هم ښه پر مخ ولاړ شي او نوې انګېزې پیدا کړي. دوی د ځینو پوښتنو په ځواب کې ویلي وو چې مونږ خپل راتلونکي ته هیله من یو، کارونه مو سم پر مخ روان دي او ډاډه یو چې خپلو موخه ته به رسېږو.

هره ګړۍ د هغه څه په اړه چې غواړي تر لاسه یې کړي، فکر او خبرې وکړئ. هیله منو کسان ته نړۍ له فرصتونو ډکه ښکاري او تل په دې اړه فکر کوي چې څنګه وکولی شي خپلو هیلو ته ځان ورسوي.

هڅه وکړئ چې هر وخت په ښو پسې وګرځئ. هیله من کسان د هرې ستونزې په منځ کې حللاره هم ویني. دوی وایي، که مشخصه موخه ولرې، کولی شی د رسېدو لپاره ورته لاره هم پیدا کړې. د هیله منو کسانو بله ښه ځانګړنه دا ده چې که هغوی پر ناسمه لار روان هم وي، هڅه کوي چې خپلې ګټې پکې خوندي کړي.